مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۱۰/۱۲

# مابنامی مجلس

## (۳۶)




**د بامیانو کیسي:**

۱ــ دلارۍ حال

میلمه چي زما د بامیانو عکسونه ولیدل؛ نو ضد ونیوه او ویل یې: دا به درته معاف کړم چي له ما پټ تللی یې؛ خو که د دې سفر توليي کیسي راته ونکړې نو بس انډیوالي ختمه بوله!

حیران شوم. که څه هم د دې دوه ورځني سفر د نکلونو حوصله مي نه وه؛ خو په داسي وخت کي راته د کلونو ـ کلونو انډیوال له لاسه ورکول هم سخت ښکاره شول. ور سره ومي منله.

پیاله مي ور وړاندي کړه : سمه ده. کوم یو نکل به یې درته وکړم.

له پیالي یې ګوټ وکړ او بیا یې راوکتل: نه، داسي کیسي به راته کوې چي زه هم هغه څه د زړه په سترګو ووینم چي تا د سر په سترګو لیدلي. د سفر له پیله، ترپایه!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شیبه غلی وم. له یوې خوا د میلمه ټینګار ته فکر وړی وم او له بلې خوا خپل مجبوریت ته. ما ویل هسې نه د مرحوم ګل پاچا الفت په خبره، **«زه یې په لیدلو او ویلو ګناه ګار شمه...»**؛ خو بس توکل په خدای مې کړل. ما ویل غوږ شه:

د تاریخي ولایت بامیانو لاره د میدان وردکو له جلریز ولسوالۍ تیریږي. دې ولسوالۍ ته مې په وروستي ځل غالباً ۲۰۰۹ کې سفر کړی و. هغه مهال سړک تازه جوړ شوی و. د منو د شنو باغونو په منځ کې د تور سړک ځلیدا عجیبه کیف کاوه. لاره دومره لنډه شوې وه چې نږدې به د جلریزه له بازاره تیر شوی وم، چې له شاته څوکۍ چا راغږ کړ او ما بریک ته پښه ور وړه.

خو، اوس... ژر مې پیاله پورته کړه.

میلمه راوکتل:

توده کې سږه مه راوله، کیسه کوه!

ــ کیسه دا ده چې له میدان ښاره د جلریز بازار تر پایه، پر همدې ښایسته سړک شاوخوا (۷۰) ځایه ماینونه الوتي وو. یو پلچک روغ نه دی پاتې، هغه ښایسته سړک اوس کنډ و کپر دی.

میلمه راوکتل: نو ولې؟ دا خو بیرته جوړول غواړي. هغه وطن کې چې خلک یې له ولږې سره لاس او ګریوان دي، د سړکونو او پلچکونو بیا جوړولو ته به پیسې له کومه شي؟

غلی وم، ورو مې وویل: جنګ کې حلوا نه ویشل کیږي!

میلمه داسې سترګې رابرګې کړې، لکه دا ټول پلچکونه چې ما الوځولي وي او بیا یې په غوسه وویل: بس که دا بې ځایه متلونه، کرکه ترې لرم! هر څوک او هره ډله خپلو ورانیو ته له همدې استفاده کوي.

ما ویل: حوصله، حوصله! دا په حقیقت کې د جګړې یو تعریف دی. وګوره؛ حلوا، خوږ شی دی. خوشالي هم خوږه وي، نو جنګ کې خو خوشالي نه ویشل کیږي. جنګ کې خو ورانی وي، وژنې وي، ویر وي، در به دري وي او... نو د دې متل اصلي موخه دا ده چې که د ژوند خواږه غواړئ؛ نو خپلو کې جنګ مه کوئ.

تېر په هیر کړه، اوس دعا کوه چې وطن مو د بلې جګړې ښکار نشي. پاتې روغ ځایونه د بلې جګړې خوراک نشي. نه یې وینې؛ هره خوا زموږ ببوسه وطن ته غاښونه چیچل کیږي.

ــ میلمه لږ ارام شو. بیا یې راوکتل: خلک وایي چې له کمپنۍ تر میدان ښاره هم سړک کنډ وکپر دی. دلته هم جګړه شوې وه؟

ــ نه، دلته فساد و. زموږ مفسدین له حده پورته سخت زړي وو. خدای خبر، د دې سړک پروژه له کوم مفسد سره وه، نوره نړۍ کې لویې لارې لسیزې ـ لسیزې عمر کوي؛ خو دلته... بل فساد د لوړ تناژ په تله کې و. بار ـ بار پرې راپورونه هم نشر شول چې د پیسو مقابل کې له حده پورته وزنونه پرې انتقالیږي او دې فساد کې ځینې ولایتي چارواکي شریک دي؛ خو راپورونو ځای و نه نیوه. لکه چې اوبه له ډیره بره خړې وې.

ملیمه ګوټ وکړ او بیا یې ویل: خپلې کیسې ته راشه. له جلریز وروسته دې څه ولیدل؟

پیاله مې پورته کړه او بیا مې پاتې کیسه شروع کړه: سهار چای مو سیاه خاک بازار کې وڅښه. دا کوچنی بازار د سړک دواړو غاړو ته له محدودو دوکانونو جوړ دی. رستورانت کې سیخ کباب او پلو پخیده. د پلو وخت نه و. او دا چې په مخکې مو اوږد سفر و، نو د روغتیایي اندیښنو له مخې مو کباب ته زړه ښه نه کړ. له دوکانه مو کیک واخیسته او چای مو راوغوښت. کیک ایرانی و. خپه شوم؛ زموږ ډیر لرې بازارونه هم د پردیو له تولیداتو ډک دي. موږ دومره په جګړو کې ښکېل ساتل شوي یوو چې هره برخه کې مو پر نورو اتکاء ده.

موږ چای څښه چې یوه ډله نور کسان هم راغلل. دوی د بامیانو بند امیر ته په چکر روان و. یوه یې ویل: نا امنیو خپل وطن کې ګرځیدل هم راته سور اور کړی و، اوس شکر امن دی، په چکر راوتلي یوو.

موږ هم شیبه وروسته حرکت وکړ. له دې ځایه اخوا ټول هزاره اوسیږي. د خونړۍ جګړې هیڅ نښې نه تر سترګو کیدې. سړک روغ جوړ و، حتی چیرته چې د سړک تر غاړې کورونه اباد وو؛ نو هم سړک یې په جمپ (پوله) نه و



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

بدرنګه کړی. ښایسته سړک، د موټرو ټایرونو ته خپله غیره پرانیستي وه. موټر ارام روان و او ما د خپل وطن له ساده حسنه خوندونه اخیستل.

میلمه پیاله راډکه کړه: ښه، نور...

ما ویل ټولې کیسې خو په یوه ماښام نه کیږي، لکه چې د ماسخوتن ډوډۍ ته دې هم همدلته پخه اراده کړې!

موسک شو، ساعت ته یې وکتل: اووو... دا خو ناوخته ده. ځم، بلې کیسې ته به سبا ماښام راشم.

ما ویل:

الله مو راوله!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ